RAWADARI
رواداری
برای یک افغانستان برابر و صلح‌آمیز

رسنیزه اعلامیه

**رواداري د یو برابر او سوله ییز افغانستان لپاره خپل کار پیلوي**

په داسې حال کې چې نړۍ د بشر حقونو د نړیوالې اعلامیې ۷۵مه کلیزه لمانځي، په افغانستان کې خلک له یوې بې مخینې انساني فاجعې او زیاتېدونکي بحران سره مخامخ دي.

له نږدې ۱۶ میاشتو راهیسې چې طالبان بیا په واک کې دي، افغانستان په بشپړ ډول د ښځو د اساسي حقوقو په بل مخ د اوښتو شاهد دی. د افغانستان د بشر حقونو ماتېدونکي لاسته راوړنې – چې په تېرو ۲۰ کلونو کې په سختۍ ترلاسه شوي وې – له منځه تللي دي، او ډېری د بشر حقونو فعالان چې د طالبانو تر ولکې لاندې افغانستان کې له خطر سره مخامخ ؤ، په ډله ییز ډول له هیواده مهاجر شوي دي.

په دې سختو نامطمئنو شرایطو کې **رواداري** نن ورځ له ۱۵ میاشتو فکر، مشورو، د بشر حقونو بې غږ و غوږه ځارنې او په هیواد کې د ننه او بهر د خپلې شبکې تر پیاوړتیا وروسته، په ښکاره خپل کار پیلوي.

موږ، په ټول هیواد کې د یو برابر او سوله ییز افغانستان، باعزته ژوند او د خپلو بشري حقونو لپاره د افغانانو له زیاتېدونکو غوښتنو، او د هیواد د ننه او په تبعید کې د افغان حقوق بشري مدافعانو له نه ستړې کېدونکو او زړورو هلوځلو څخه الهام اخستی.

په **رواداري** کې موږ د بشر حقونو د افغان فعالانو، مدافعانو او پلټونکو وړه ډله یوو چې په وروستیو کې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې خپاره شوي یوو. موږ په ټول افغانستان کې د افرادو له یوې شبکې سره نږدې همکاري لرو او د افغان او نړیوالو مشاورینو د پلاوي تر مشرۍ لاندې کار کوو.

زموږ موخه په افغانستان کې د بشر حقونو د فرهنګ تعمیق، وده او بالاخره د ټولو افغانانو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د درد او کړاو کمول دي. له زده کړو درسونو، ګډو ضررونو، ماتو، او وړو بریاوو په ډاډ سره، غواړو په افغانستان کې د بشر حقونو د غورځنګ له پیاوړتیا سره مرسته وکړو. موږ په پراخې شبکې سره د بشر حقونو د نقض پېښې څارو او رپوټ کوو یې، او پرله پسې د افغانستان د بشر حقونو له نورو مدافعانو او سازمانونو سره، له بین المللي میکانیزمونو او همدا راز له قرباني محوره ابتکاراتو، عدالت او د تخلفاتو پر وړاندې له ځواب ویلو څخه په استفادې کار کوو.

اته اصلي ارزښتونه زموږ د کار سرمشق دی: بې طرفي، تنوع ته درناوی، ټول شمول والی، صداقت، اعتماد، آزادي، برابري، انصاف، او زده کړې ته ژمنتیا.

موږ له خپلو افغان سیالانو او همکارانو غواړو چې د زده کړې او خدمت لپاره زموږ د ګډ سفر ملګري اوسي. موږ ستاسو په پیوستون حساب کوو او هیله لرو چې زموږ ګډ کار د قربانیانو، د هغوی کورنیو او په ټوله کې د افغانستان ټولنې لپاره ګټوره سرچینه جوړه شي.

موږ له نړیوالې ټولنې – په ځانګړي ډول له هغو کسانو چې د اوږدې مودې لپاره زموږ په هیواد کې ښکېل ؤ – دغه ډاډ ترلاسه کول غواړو، چې بشر حقونه له افغانستان سره د دوی د تعامل په مرکز کې ځای لري. موږ د سیمې او نړۍ له رهبرانو غواړو چې د بشر حقونو په دفاع کې د افغانانو تر څنګ پاتې شي. په افغانستان کې د روان حقوق بشري ویجاړوونکي بحران سره د مقابلې مسئولیت یو ګډ مسئولیت دی.

زموږ موخه په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت اړوند روښانتیا رامنځته کول دي.

او په دې لاره کې به تسلیم نشو.